ورځپانه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې نهمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۳۰مه | ۴۸۸مه گڼه

## هېواد
۴ مخ

### کویټ

کویټ یو وړوکی هېواد دی چې نسبتاً د آزاد مارکېټ اقتصادي سیستم لري او د تېلو ۱۰۲ بلیون بېرله تثبیت شوې زېرمه لري، چې د ټولې نړۍ ۹ سلنه زېرمه جوړوي.



## د هرات- خواف اورګاډي پروژه به تر راتلونکو څلورو میاشتو بشپړه شي



ایراني چارواکي وایي چې له افغانستان سره د اورګاډي پروژې کار به تر راتلونکو دریو یا څلورو میاشتو بشپړ شي.
د ایراني رسنیو د راپورونو له مخې، د دغه هېواد د ترانسپورټ وزارت مرستیال عباس خطیبي رسنیو ته ویلي، چې د ایران او افغانستان نښلولو لپاره د اورګاډي پټلۍ د ایران له ختیځ ښار خواف څخه د افغانستان تر هرات ولایته پورې غځول کېږي.
سرچینې زیاته کړې چې په راتلونکو دریو میاشتو کې به د دې لیکې غځولو چارې بشپړې شي او له هغه وروسته به د اورګاډي د تګ راتګ پروسه پیل شي.
خطیبي ویلي، د ۱۹۱ کیلومترو په اوږدو کې دغه لیکه به د ۲۰۲۰ ز کال په مارچ یا اپرېل میاشت کې بشپړه شي او له هغه وروسته به تګ راتګ، صادرات او واردات پیل شي چې هممهاله به ورسره د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګري پرمختګ وکړي.

# خاموش قاتل؛
## د کابل ککړه هوا د زرګونو ښاریانو ژوند ګواښي



۳

اوربند، یو مثبت ګام او څو اندېښنې
۲ مخ

چهلمین سال‌روز تجاوز ارتش سرخ بر افغانستان
۲ مخ

د کعبې کلابندی؛ د سعودي معاصر تاریخ تګلوری بدل کړ
۳ مخ

## د بشري حقونو کمېسیون: ګډو ځواکونو په کاپیسا کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي چې په کاپیسا ولایت کې د ګډو ځواکونو په عملیاتو کې ملکي وګړي وژل شوي دي. د یاد کمېسیون له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د تر لاسه شوو راپورونو او په کاپیسا کې د سیمه ییزو چارواکو د تایید پر بنسټ، تېره اونۍ (د مرغومي دویمه شپه) د ځانګړې قطعې ځواکونو د نړیوال ائتلاف هوایي ځواکونو په همکارۍ، د وسله والو مخالفینو د ځپلو په موخه د نجراب ولسوالۍ په افغانیه، بهرام‌خېلو، اهنګران، پشه یي، حصار، صورت خېلو، مهتانیو، لوکاخېلو او صاحبزاده‌خېلو کلیو کې ځمکني او هوایي عملیات کړي دي. سرچینې زیاته کړې چې په دغو عملیاتو کې شپږ ملکي وګړي وژل شوي او څلور نور ټپیان شوي دي.
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو ځل بیا له کورنیو او بهرنیو ځواکونو غوښتي، چې په خپلو نظامي عملیاتو کې لا ډېر دقت وکړي، څو ملکي خلکو ته زیان وا نه وړي.
په خبرپاڼه کې راغلي، اوس د دې ډول غمجنو پېښو په تکرار سره د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو ځل بیا له ښکېلو غاړو په کلکه غواړي، چې په خپلو نظامي عملیاتو کې د مسوولانه دقت تر څنګ، د نړیوالو بشردوستانه حقونو اصول او د هېواد قوانین په جدي توګه رعایت کړي، څو ملکي خلکو ته د زیان او مرګ ژوبلې اوښتو مخه ونیول شي. دغه راز کمېسیون د دې ډول پېښو د مخنیوي او خلکو ته د اوښتو زیانونو د جبرانولو او د قربانیانو د حقونو د تامین په موخه، له عدلي او قضایي بنسټونو د دغه برید د څرنګوالي په اړه د پرله پسې او اغېزناکو ارزونو او هغه ته د عادلانه رسېدنې غوښتنه کوي.

## د شکایتونو د زیاتوالي له امله نه شو کولای چې په ټاکل شوې موده کې هغه وڅېړو

کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون
د افغانستان اسلامي جمهوریت
Independent Electoral Complaints Commission

۵ مخ

## مقام های محلی: وارد نمودن کلدار پاکستانی به تورخم ممنوع است



شاه محمود میاخیل، والی ننگرهار هشدار داده است که به کسی اجازه انتقال بیش از نیاز پول افغانی را به پاکستان نمی‌دهد، همچنان شهروندان نه میتواند کلداری پاکستانی را وارد گذرگاه تورخم نماید. این تصمیم پس از آغاز کارزار منع استفاده از روپیه پاکستانی که در افغانستان به کلدار مشهور است، در دادوستدها در ولایت ننگرهار روی دست گرفته شده است. این کارزار در ولایت‌های جنوب و شرق کشور بیش از یک ماه است که جریان دارد.
دفتر مطبوعاتی والی ننگرهار با نشر خبرنامه ای به نقل از مسؤلان شهرک مرزی تورخم، اعلام کرد که ممنوعیت ورود کلدار از پاکستان به افغانستان روی دست گرفته شده و هم زمان با آن به کسی اجازه داده نخواهد شد تا بیش از نیاز پول افغانی را با خود به پاکستان ببرد. این دفتر ورود کلدار از مرز تورخم به افغانستان را از موانع اصلی کارزار منع استفاده از کلدار در ولایت ننگرهار عنوان کرده است. هم‌چنان باشنده‌گان ننگرهار شکایت کرده‌اند که پول افغانی از مرز تورخم به پاکستان منتقل می‌شود تا مانع این کارزار شود.
هم‌چنان مسؤلان کمیساری تورخم گفته‌اند که به پولیس دستور صریح داده شده است که به هیچ کس اجازه انتقال کلدار به ننگرهار و قاچاق افغانی به پاکستان را ندهند.
نجیب‌الله ساپی، کمیسار تورخم گفته است که همه‌روزه کسانی که از تورخم تردد می کنند، تلاشی می‌شوند. او تأکید کرده است، کسانی که کلدار داشته باشند، در صرافی‌ها باید به افغانی صرف کنند.

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### اوربند، یو مثبت ګام او څو اندېښنې

وسله والو طالبانو ته نږدې سرچینې وايي، د دې ډلې مشرانو منلې چې له امریکا سره له هوکړې وړاندې به اوربند کوي. ځینې سرچینې دا اوربند لس ورځنی او ځینې نور یې اووه ورځنی ګڼي. طالب وياند هم وايي چې په دې اړه بحثونه او مشورې روانې دي او له نهایي کېد وروسته به یې رسمي اعلان کوي. د ذبیح الله مجاهد له خبرو ښکاري چې اوربند کېدونکی او اعلانېدونکی دی او ژر به عملي شي.

په افغانستان کې د جګړې ختمول او اوربند د افغانستان د خلکو اساسي هیله او غوښتنه ده، نو ځکه خلک ورته خوشاله دي او هرکلی یې کوي. دا ګام په واقعي مانا ښيي چې د جګړې ښکېل لوري مثبت ګامونه اخلي او دا د سولې په برخه کې یو ستر ګام دی. خلک په تمه دي چې اوربند ژر عملي شي او بیا ورپسې دایمي سوله وشي. د دې مثبت ګام له ملاتړ او هرکلي سره سره پکار ده چې څو اساسي اندېښنو ته جدي پام وشي.

لومړی دا چې دا اوربند باید هر اخیز وي او له ټولو اړخونو سره وي. که اوربند له یو اړخ سره کېږي او بل اړخ هېرېږي، نو بیا ښایي نوې ستونزې پیدا شي او د سولې خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي.

دویم دا چې ښکېل اړخونه باید رښتیني وي. وېره ده چې ښایي امریکا له طالبانو سره اوربند د دې لپاره کوي، چې بیا په پټه د خپلو استخباراتي کړیو او ډلو پر مټ ځینې بریدونه وکړي. ښايي دا بریدونه طالبانو ته منسوب شي او یا یې هم له طالبانو سره تړلي ځینې اشخاص او کړۍ مسوولیت هم واخلي. دا اندېښنه شته چې امریکا په دې اوربند کې رښتینې نه وي او بیا هم دسیسه او توطیه کوي. که داسې څه وي، نو بیا وېره شته او پکار ده چې سره له اوسه ورته پام وشي.

درېیم دا چې ښایي ځینې نورې کړۍ د اوربند د ګډوډولو او ماتولو هڅه وکړي. د سولې روانې خبرې دواړو اړخونو ته دښمنان لري. دا هم رښتیا ده چې یو درېیم او څلورم اړخ به هم وي چې غواړي دا خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ شي او جګړه دوام وکړي. له همدې امله دوی به هڅه وکړي چې په بریدونو او چاودنو سره دا اوربند ګډوډ کړي او د سولې په برخه کې دا ستره لاسته راوړنه خرابه کړي.

ځینې نورې اندېښنې هم شته، خو پکار ده چې سر له اوسه ورته پام وشي. لومړی باید رښتینولي وي، اوربند باید هر اړخیز وي او بل دا چې ښکېل اړخونه په ګډه کار وکړي څو د هغو کړیو مخه ونیسي، چې د اوربند د ګډوډولو هڅه کوي. له بله اړخه دا هم باید له وړاندې ومنل شي چې که کومه پېښه کېږي، چېرته برید یا چاودنه کېږي، ښکېل اړخونه باید ژوره همغږي ولري. یوه پېښه چې ښایي د سولې او اوربند دښمنانو کړې وي او یا هم تېروتنه او ناسم پوهاوی وي، باید د دې سبب نه شي چې ټول اوربند او دا ستره لاسته راوړنه خرابه کړي. له همدې امله د بریدونو شونتیا باید هېره نه شي، د مخنیوي لپاره یې همغږي وي او یوه پېښه باید هر څه ګډوډ نه کړي.

# چهلمین سال‌روز تجاوز ارتش سرخ بر افغانستان

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

ششم جدی امسال برابر است با چهلمین سال‌روز هجوم نظامی اتحاد جماهیر شوروی پیشین بر افغانستان. درست ۴۰ سال پیش از امروز سربازان اردوی سرخ تا دندان، مسلح از طریق بندر حیرتان وارد افغانستان شدند. این در حالی بود که تعدادی از قطعات نظامی شوروی، قبلاً از طریق هوا به میدان هوایی بگرام آمده و در نقاط حساسی جابجا شده بودند. دلیل اصلی این تهاجم سرکوب مقاومت مردمی ای بود که در برابر رژیم خلقی وابسطه به مسکو در بیشتر ولایات کشور به راه افتیده بود. اما دلائلی دیگری هم وجود داشت که پای نیروهای نظامی اتحاد شوروی را به افغانستان کشانید. آتشی را که چهار دهه قبل، حزب دیموکراتیک خلق و دوستان انترناسیونالست شان در وطن ما برافروخته بودند، هنوز هم زبانه می کشد و همه روزه ده ها هم وطن ما را به کام مرگ فرو می برد. تجاوز شوروی در افغانستان، یکی از سیاه ترین مقاطع تاریخ معاصر کشور ما به حساب می آید. در این تحلیل به چگونگی تجاوز و زمینه سازان آن، پرداخته شده است.

### تجاوز و عکس العمل

به اعتراف نسل جدید رهبران روسیه، تجاوز به افغانستان یکی از اشتباهات بزرگ کرملین در سیاست خارجی اش در دههء هشتاد قرن گذشته بشمار می رود. حمله شوروی به افغانستان؛ ظاهراً به بهانه درخواست کمک از طرف مقامات رسمی حکومت وقت انجام یافته ولی در عمل، جناح های متشکلهء حکومت اعم از خلق و پرچم، کوشش می کنند از زیر بار این جنایت تاریخی شانه خالی نمایند. ببرک کارمل؛ رهبر جناح پرچم حزب دیموکراتیک خلق، یک روز بعد از این حمله، با ایراد بیانه ای کوتاه از طریق امواج رادیو تاشکند، از سقوط حکومت جناح خلق برهبری حفیظ الله امین خبر داده قدرت را در افغانستان در دست گرفت. از همان زمان، مجاهدین افغان با توکل به الله متعال در مقابل قوی ترین ارتش روی زمین در آنوقت به جهاد پرداختند.

در روز نخست تجاوز شوروی در افغانستان، حفیظ الله امین رئیس جمهور کمونیست بعد از قتل نابغه شرق و استادش؛ نورمحمد تره کی توسط بر اریکهء قدرت کابل تکیه زده بود، درحالی از بین برده شد که مصروف یک مهمانی مجلل از سران حکومتی و حزبی با خانم های شان در قصر مجلل تاج بیگ بود. طبق راپورها، نخست حفیظ الله امین توسط آشپز روسی اش مسموم و بعد از آن توسط کماندوهای شوروی از بین برده می شود. و بعداً کارد محافظتی اش که تعداد آن به صدها می رسید، از طرف کماندوهای روسی از پا در آورده می شوند. ببرک کارمل سوار بر تانک روسی وارد کشور گردیده و به‌عوض امین بر اریکهء قدرت نصب می شود.

به این صورت طی یک کودتاه سازمان یافته، قدرت از گروپ خلق دوباره به گروپ پرچم در حزب دیموکراتیک خلق انتقال پیدا می کند. در مرحله جدید انقلاب ثور، تعداد مشاورین روسی در ادرات مختلف دولتی چندین برابر بالا رفته و تمام امور ملکی و نظامی تحت نظارت مستقیم آنها به پیش می رفت. در حدود ٦٢٠ هزار نیروی شوروی در افغانستان با مجاهدین این کشور جنگیدند(منظور تعداد سرباز جنگ کرده در افغانستان است نه اینکه همزمان سربازان شوروی در کشور با این رقم حضور داشته اند). سر انجام پس از ۹ سال مقاومت مردم افغانستان به تاریخ ٢٦ دلو ١٣٦٩ (٣١ دسامبر ١٩٩١) شکست خورده از افغانستان خارج می شوند.

### تصمیم حمله

دفتر سیاسی شوروی با اشتراک گرومیکو وزیر خارجه، اندروپوف رئیس کا.جی. بی، مارشال اوستینوف وزیر دفاع، کرنینکوف معین وزارت خارجه، سترجنرال اگارکوف لوی درستیز و تورن جنرال ایوانوف در مورد وضعیت سیاسی و نظامی افغانستان در ماه اگست ١٩٧٩ (قوس – جدی ١٣٥٨) جلسه ی را دایر نمودند. پس از نشست های مکرر مارشال استینوف وزیر دفاع شوری با جنرال مربوط خویش، که به‌طور مسلسل از اول الی بیست چهارم اگست ١٩٧٩ (١٢ قوس الی ٥ جدی ١٣٥٨) دایر می گردید، سر انجام به تاریخ ٢۴ اگست (٥ جدی) از سوی وزیر دفاع به جنرال های اردو تصمیم رهبری حزبی و دولتی اعلام می شود که در افغانستان قطعات نظامی فرستاده می شود و نیز توضیح می گردد که این قطعات فردا با عبور از دریای آمو وارد افغانستان خواهند شد. به تاریخ ٢٥ اگست ١٩٧٩ (٦ جدی ١٣٥٨) سپاه چهلم که از پیش برای این منظور در نزدیکی سرحدات شمالی افغانستان جا به جا گردیده بود، از زمین و هوا به افغانستان سرازیر می شوند. و تشکل تعینات نظامی نیز به این صورت می باشد: توخارینوف به عنوان قوماندان، برید جنرال وتکاپوف آمر سیاسی، برید جنرال لوپانوف رئیس ارکان و برید جنرال کرکاکین آمر کشف. اردوی چهلم که متشکل از صد قطعه جز و تام بوده و دارای چهار فرقه موتوریزه شده که عبارت باشد از لوای توپچی، لوای راکت و دافع هوا، قطعات انجنیری و مخابره، و جزم و تام های تامیناتی و لوژستیکی بود. تعداد قوای مذکور در سال ١٩٧٩ به هشتاد هزار تن می رسید که بعداً به این تعداد افزوده شده به یک صدو پانزده هزار رسید که در نکات مهم و کلیدی از جمله میدان هوایی کابل، بگرام و شین دند جا به جا گردیدند.

### چه کسی همکار تجاوز بود؟ خلق یا پرچم؟

شاخه های خلق و پرچم حزب دموکراتیک خلق افغانستان در مورد اینکه کدام یک از شاخه های حزب مذکور از شوروی ها برای دخالت نظامی در افغانستان دعوت بعمل آورده بودند، بر علیه هم گواهی های فراوانی دارند. خلقی ها دعوت از شوروی ها توسط خود شان را رد نموده و همه بار مسؤلیت را بر شانه های پرچمی ها می گذارند، و پرچمی ها که توسط نیروهای متجاوز شوروی به قدرت رسانیده می شوند، با ارائه بسا از اسناد و شواهد خلقی ها را نیز در دعوت از شوروی ها مقصر می دانند، شاید تلاش های پرچمی ها بر این باشد که از سنگینی بار مسؤلیت تجاوز شوروی که در شانه های شان است، بکاهند. برای روشن شدن موضوع در این جا بسا از گفته ها را و اسناد را از یادداشت ها و مصاحبه ها کمونیست های کشور ما و دیگران مرور می کنیم: «محمد قاسم آسمایی یکی از نویسندگان شاخه پرچم حزب دموکراتیک خلق افغانستان، با انتشار ترجمه اسناد محرم از زمان شوروی، مدعی است که نورمحمد تره کی و ببرک کارمل هردو از شوروی ها دعوت بعمل آورده بودند که نیروهای نظامی در حمایت از حکومت کمونیست در افغانستان به این کشور گسیل بدارند...» محمد حسن شرق صدر اعظم در دوران حکومت داکتر نجیب آخرین رئیس جمهور کمونیستی در افغانستان در صفحه ١٥٨ کتاب کرباس پوش های برهنه پا می نویسد: «آغاز ماه سپتمبر ١٩٧٩ رئیس جمهور افغانستان نورمحمد تره کی که بعد از ٧ ثور به‌حیث رئیس دولت از طرف حزب دیموکراتیک خلق تعین گردیده بود، در کنفرانس کشورهای غیر منسلک در هاوانا اشتراک نموده و در باز گشت از ماسکو دیدار بعمل آورده او را به بمثابه رئیس دولت دوست پذیرفتند. تره کی باردیگر تقاضایی حکومت کابل را به اتحاد شوروی جهت اعزام عساکر شوروی به خاطر دفاع از انقلاب افغانستان تکرار کرد». در کتاب جنگ در افغانستان (نوشته گروه از دانشمندان انستیتوت تاریخ نظامی فدراسیون روسیه) به نقل از تعداد سندهای محرم به جا مانده از دوران شوروی وقت، نورمحمد تره کی و حفیظ الله امین رهبران جمهوری دموکراتیک خلق افغانستان بارها از رهبران شوروی وقت، خواستار دخالت نظامی در افغانستان شده اند، که تعداد این درخواست ها به ٢٠ موارد رسیده که از آن جمله ٧ درخواست آن به نورمحمد تره کی نسبت داده شده است، که در این جا برای روشن شدن هرچه بیشتر موضوع شماری از آن سندها را نقل قول می نماییم:

به تاریخ ١١ جون ١٩٧٩م تره کی گفت: «بسیار خوب می شد اگر جانب شوروی تصمیم به اعزام پنهانی چند گروه ویژه سپاهیان شوروی (که تعداد هر گروه به یک کندک برسد)، در صورت پرتنش شدن سریع اوضاع در پایتخت، بگیرد». نماینده ک. گ. ب در کابل

١١ اگست با امین بنا به تقاضای او دیدار کردم. در روند گفتگو توجه خاصی به آمدن جزوتام های شوروی به افغانستان مبذول گردید. امین مصرانه خواهش کرد به رهبران شوروی لزوم عاجل جزوتام های شوروی به کابل را گزارش دهید. او چند بار تکرار کرد که «حضور سپاهیان شوروی به پیمانه چشمگیری روحیه ما را بالا برده و به ما آرامش و اطمینان بیشتری خواهد بخشید. شاید رهبران شوروی از آن نگران اند که دشمنان ما در جهان، آمدن سپاهیان شوروی به افغانستان را به عنوان مداخله در امور داخلی جمهوری دیموکراتیک افغانستان ارزیابی خواهند کرد. مگر من به شما اطمینان میدهم که ما یک دولت مستقل و آزاد هستیم و همه مسایل را مستقلانه حل و فصل میکنیم. سپاهیان شما در نبردها اشتراک نخواهند ورزید. آنها را صرف در لحظات بحرانی به یاری فرا خواهیم خواند. فکر میکنم ما به جزوتام های شوروی تا بهار نیاز خواهیم داشت.

به تاریخ ١٢ اگست سروری رئیس سازمان امنیت افغانستان (اگسا)، بنا به سفارش امین از ما خواست تا مسئله برآوردن خواهش رهبران جمهوری دیموکراتیک افغانستان مبنی بر آمدن کندک های ویژه شوروی و تحویلدهی طیاره های چرخی برای حمل و نقل با پرسنل شوروی را سرعت بخشیم. سودمند خواهد بود، هرگاه در روزهای آینده یک کندک ویژه و همچنان طیاره های چرخی برای حمل و نقل با پرسنل شوروی را به کابل اعزام نماییم. همزمان با آن خواهشمندیم مسئله روان کردن دو کندک ویژه دیگر، یکی برای تقویت پاسداری از پایگاه هوایی بگرام و دیگری برای استقرار در بالاحصار را بررسی کنید».

### در آرزوی امنیت و صلح

تجاوز شش جدی در کنار خسارات فراوان مالی که از خود به جا گذاشت، در نتیجه آن ملیون ها افغان جان خود را از دست دادند و دهها هزار تن معلول و یتیم و بیوه شدند. و بدتر از همه اینکه این تجاوز شرمناک، زمینه دخالت های غیر مشروع بیگانه ها اعم از همسایه و غیر همسایه ها را در امور داخلی کشور ما به شکل بی سابقه ای مهیا ساخت. درسال ١٣٧١ هـ ش بعد از شکست قشون سرخ و سرنگونی حکومت داکتر نجیب بدست مجاهدین، عاملین قتل و کشتار و همکاران قشون تجاوزگر از طرف حکومت مجاهدین به این امید مورد عفو قرار گرفتند که صلح و آرامش به وطن بازگشته و دیگر صدای فیرتفنگ در کشور شنیده نشود، اما دریغا که چنین نشد وبه‌علت بی کفایتی حکومت مجاهدین و جنگهای داخلی جناحهای رقیب از یک طرف وتوطئه ها ودسایس دشمنان داخلی و بیرونی مردم افغانستان از طرف دیگر، کشور ما روی آرامی را ندید و سلسله نا آرامی‌ها و جنگ تا جایی پیش رفت که افغانستان با یک تجاوز جدید به رهبری ایالات متحده امریکا رقیب اتحاد جماهیر شوروی قرار گرفت. به همین دلیل افغانها نتوانستند که فدراتیف روسیه؛ خلف اتحاد شوروی را به دادن غرامت جنگی مجبور سازند و یاهم همکاران داخلی شانرا به میز عدالت بکشانند. ولی در شرائط که افغانستان در وضعیت بسیار حساسی قرار دارد، و اما روزنه ای به طرف صلح گشوده شده است، توقع میرود که دولت روسیه از بیرون و بقایای رژیم اشغال شوروی از داخل، به‌خاطر ادای بخشی از دینی که مردم افغانستان بالای آنها دارند، حد اقل با پروسه صلح همکاری صادقانه نموده و در خاموش ساختن آتشی سهم بگیرند که چهل سال قبل به همکاری هم افروخته بودند.

# د کعبې کلابندي؛ د سعودي معاصر تاریخ تګلوری بدل کړ

لیکنه: بي بي سي پښتو

وسله وال د حرم لـه ودانـۍ تـر پنځـو ورځـو خونړۍ جګړې وروسته وایستل شول، خو دوی د حرم څمکتل ته کوز شول چې هلته لسګونه خوني وې.

لـه څلورو لسیزو راهیسـې، په دقیـق ډول په ۱۹۷۹ ز کال کـې، سـعودي سـلفي دعوتګر او پلویـان یـې په مکه کې مسجد الحـرام ته ننوتـل، سـعودي چارواکـو حـرم کلابنـد کـړ، چـې بالاخـره دا کلابنـدي د وسله والـو او د هغـوی د کورنیـو د غـړو پـه تسـلیمېدو تمامه شوه.

پـه ۱۴۰۰ هــ ق کال کـې د مکـې مسجد الحـرام کـې د سـهار لـه لمانځـه لا لمونځ کوونکـي وزګار شـوي نـه وو، چـې ناڅاپه یوه نـه اټکلېدونکـې پېښـه وشـوه.

د سـعودي پـه بېلابېلـو ښـارونو کـې پـه عـام محضر لـه دغـو وسـله والـو ٦٣ تنـه اعدام شـول، چې په سر کـې یې جهیمان العتیبي و. خـو څـه پېښ شـول او جهیمان څـوک وو چې مسجد الحرام ته په زور د ننوتلو مشري یـې کوله؟

لاریـون والـو د مکـې حـرم مخـې تـه د جهیـمان او د هغـه د ملاتـړو د تسـلیمېدو چغـې وهلـې او یوه نانځکه یې وسـوځوله. په ۱۹۷۹ ز کال کـې سـلفي دعوتګـر او پلویان یـې پـه مکـه کـې مسجد الحرام تـه پـه زور ننوتـل، یـادي ډلـې پـه تابوتونـو کـې پـه دې پلمه وسـلې ورسره ننویسـتلې وې، چې ګنې تابوتونـو کـې د ننـه د مـړو د جنـازې لمونځ ادا کېـږي، خـو د دوی نیت دا و چـې په دې سره د «منتظـر» مهـدي د راوتلو شرطونه پوره کېږي.

سـعودي چارواکـو د وضعیـت کابـو کولـو هڅـه وکـړه، خـو د جهیـمان العتیبـي پـه مـشرۍ د سـلفي وسـله والـې ډلـې له سخت مقاومـت سره مخامـخ شـول. کـه څـه هـم د حـرم کلابنـدۍ پـه اسـلامي نـړۍ کـې ډېـر هېوادونـه هېښ کـړل، خـو د پېښـې خبري پوښـښ نیـم ژواندی ښـکارېده.

وسـله وال د حـرم لـه ودانـۍ تـر پنځـو ورځـو خونـړۍ جګـړې وروسـته وایسـتل شـول، خو دوی د حـرم څمکتل ته کوز شـول چې هلته لسـګونه خونـې وې. چارواکو هڅه کوله چې وضعیـت څومـره ژر وي، ارام کـړي او هلتـه د عبـادت پـه تېـه ولاړ حالـت بېرته عـادي شي او وسـله وال یـې ژونـدي ونیـول او محاکمـه کـړل شي.

فرانسـې د دریـو جګـړو افسرانـو پـه مشرۍ د ترهګـرۍ ضـد یـو کنـډک عسـکر هلتـه واسـتول.

دغـو افسرانـو سـعودي افـسران ورزول چـې څنګـه لـه ګازو کارولـو ګټـه واخلـي او وسـله وال لـه څمکتل څخـه وتلو ته اړباسي. د حرم کلابنـدي د پاتـې وسـله والـو او د هغـوی د کورنیـو د غړو په تسـلیمېدو پای ته ورسـېده، دري شـپېته یـې د بېلابېلـو ښـارونو پـه عامه ځایونـو کـې اعدام شـول.

**جهیمان العتیبي څوک و؟**

جهیـمان پـه سـاجر ښـار کـې زیږېدلـی، پـه دې کوچیـاني ټولنـه کـې دوی غوښـتل د ژونـد بڼه بدلـه کـړي، ځکه دا یـې د جاهلیت ژونـد بالـه. جهیـمان تـر څلـورم ټولګـي ډېـر درسـونه ونه لوسـتل، د ځوانۍ لومړۍ ورځـې یـې هـم ډېـرې څپڅپانـده وې، د ده پـه اړه ویـل کېدل چـې د کویټ او سـعودي تر منځ بـه یـې خلک قاچاقـول او په دینـي چارو کې هـم ډېـر ملتزم نـه و. خو هوډ یـې وکړ چې په سـلفي تـګلاره کې ځـان دعوتګـر کړي.

جهیـمان د سـعودي مـلي ګارد کـې د لارۍ چلوونکـي دنده هم مختـه وړې، چې هلته د ده د قبیلـې ډېر نـور ځوانان هـم وو. نوموړی ډېـر ژر مشـهور او ملګـري یـې پیـدا کـړل، د هغـه جذابـې خبـرې ډېـر کسـان ورجـذب کـړل.

جهیـمان پـه سـاجر ښـار کـې زیږېدلـی، پـه دې کوچیـاني ټولنـه کـې دوی غوښـتل د ژونـد بڼه بدلـه کـړي، ځکه دا یـې د جاهلیت ژونـد باله.

جهیـمان د سـعودي د هغـه وخت لـه واکمنو (آل سـعود او وهابي شـیخانو) سره ډېر ځلې د هېـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې ټکـر راغـی، خـو پـرې ورټـول شـوي ملګـري یـې لـه ځانه سره وسـاتل. جهیـمان پـر شـاهي شـیخانو او ملایانـو نیوکـې کولـې چـې د پیسـو او اسـانتیاوو پـه مقابل کې د حق خـبره نه وي.

کلـه چې جهیـمان دې پایلې ته ورسـېد چې لـه شـاهي کورنـۍ او شـیخانو سره یـې روغه نـه کېږي، د خپـل فکر عملي کولـو لپاره یې متېـې بـډ وهلې او د قیامت د نښـو اعلانولو او د مهـدي د راتـګ لپـاره یې دعـوت پیل کړ.

**دې پېښې پر سعودي څه اغېز وکړ؟**

د حـرم کلابنـدۍ د القاعـدې شـبکې پـر بنسـټګر اسـامه بـن لادن ډېـر اغېـز وکـړ. نومـوړي یـې پـه اړه ولیکل: «کله چې شـخړه پیـل شـوه، د مسـجد الحـرام ککـړول پیـل شـول، لاهـم هغه پېښـه زما په ذهـن کې ده، دا سـتونزه په سـوله ییزه لار هوارېدی شوی».

**د جهیمان ملاتړي تر نیول کېدو وروسته**

څارونکـي وایـې، دا پېښـه په سـعودي کـې د نوښـت پیلامه شـوه، د جهیمان یوه غوښـتنه دا هـم وه چـې د سـعودي پـه ټلوېزیـون کـې دې خبریالانـې نـه وي.

عمـلاً هـم ولیـدل شـول چـې له دې پېښـې وروسـته د سـعودي په ټلوېزیون کې خبریاله ونـه لیـدل شـوه. سـعودي تـر دې پېښـې وروسـته پـر یـوه ډېـر محافظـه کار تګلـوري خپـل سـفر پیـل کـړ، ټیـک څلـور لسـیزې پـر دې تګلـوري روان وو، چـې بالاخـره پـه وروسـتیو دوو کلونـو کـې یـې بدلونونـه پیـل کـړل.

پـه ۲۰۱۸ ز کال کـې ولیعهـد محمـد بـن سـلمان وویل: «موږ د نـورو خلیجي هېوادونو پـه څېـر طبیعـي ژوند درلـود، هلته د سـینما رول وو»، چـې د نومـوړي اشـاره د ۱۹۷۹ ز کال سـتونزې (پېښـې) تـه وه.

# خاموش قاتل؛

## د کابل ککړه هوا د زرګونو ښاریانو ژوند ګواښي



د کابل هوا د ژمي په را رسېدو د بل هر وخت په پرتله ککړه شوي ده او د دغه ښار اوسېدونکي له جدي روغتیایي ستونزو سره مخ دي. سره له دې چې حکومت د ځینو اقداماتو خبره کوي، خو کابل ښاریان وایي چې حکومت په خپله دنده کې ناکام دی او د کابل ښار هوا ورځ تر بلې زهري کېږي.

د کابل ښار هوا هر ژمی خورا ککړه وي، خو روان ژمی تر بل هر وخت د دې ککړتیا کچه لوړه شوې ده. هوا د نړیوال روغتیایي سازمان تر ښودل شوي وروستي حد څو برابره ککړه او زهري شوې ده.

په وروستیو کلونو کې د اقلیم بدلون او د هوا ککړتیا پر نړیواله ستونزه بدله شوې، چې په دې بهیر کې د افغانستان ځیني ښارونه هم ورګډ دي. پلازمېنه کابل یو له هغو نړیوالو ښارونو دی چې د هوا ککړتیا پکې اوج ته رسېدلې ده او د اوسېدونکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی دی. د چاپېریال ساتنې ادارې خپرې کړې شمېرې ښیي، چې د کابل په ډېرى سیمو کې د غیر معیاري سون توکو د کاروني له امله د هوا ککړتیا اوج ته رسېدلې ده او دوی هڅه کوي چې دغه ستونزه کنټرول کړي.

د چاپېریال ساتنې ادارې په کابل کې شته استوګنیزو ښارګوټیو، فابریکو، اصنافو او نورو کسبګرو ته خبرداری ورکړی، چې معیاري سون توکي وکاروي او تر څنګ یې د خپلو سون توکو د خطرونو کمولو لپاره فلترونه وکاروي. دې ادارې ویلي چې دوی له نورو ارګانونو سره په ګډه د هغو کسانو پر وړاندې اقدام کوي، چې قوانینو ته درناوی نه کوي او د کابل ښاریانو ژوند ته خطر پېښوي.

له دې سره هممهاله پرون د اجرایه رییس په مشرۍ د هوا د ککړتیا پر وړاندې د مبارزې عالي کمېټې غونډه کړې ده. اجرایه رییس په دغه غونډه کې ویلي چې دوی د متخلفینو پر وړاندې جدي ګامونه اوچتوي او په دغه کمېټه کې شامل ارګانونه باید خپلې دندې په سمه توګه سر ته ورسوي. نوموړي د چاپېریال ساتنې ادارې ته دنده وسپارله، چې د هوا پاکولو ځانګړو فلترونو په برابرولو کې ژر تر ژره اقدامات وکړي.

بلخوا د چاپېریال ساتنې ادارې مرستیال انجنیر عزت الله صدیقي وایي، په ښار کې د غیر معیاري سون توکو د کاروني او په ښارګوټو کې د معیاري تودوونکو سیستمونو د نه موجودیت له امله، د کابل ښار د هوا ککړتیا اوج ته رسېدلې ده. د ده په خبره، کابل ښاریان د ډېرې سکاره سیځي، غیر معیاري تېل کاروي، ربړ او چرمونه سیځي چې له امله یې د ښار هوا ککړه او د خلکو ژوند ته ګواښ متوجه دی.

بلخوا د ولسي جرګې د چاپېریال ساتنې د کمېسیون مشر خان محمد وردګ هم وایي چې حکومت دې د کابل ښار د هوا ککړتیا د کنټرول لپاره اړین ګامونه اوچت کړي. هغه ویلي: «حکومت باید جدي اقدام وکړي، د کابل او نورو ښارونو هوا مخ پر ککړتیا ده او دا د ټولو لپاره خطرناکه ده».

د ولسي جرګې بل غړي حیات الله عالمي ویلي چې د کابل د هوا ککړتیا خپل اوج ته رسېدلې ده. عالمي ویلي: «په کابل کې د هوا ککړتیا کچه ۴۵۰ ته رسېدلې، په داسې حال کې که په نورو هېوادونو کې د هوا ککړتیا ۱۵۰ ته ورسیږي، هلته رخصتي اعلانوي».

کابل ښاریان بیا حکومت پړ بولي چې د هوا ککړتیا ته پام نه کوي او همدا راز د ځینو فابریکو او ښارګوټیو د غیر معیاري تودوونکو سیستمونو او سون توکو په اړه اقدام نه کوي. د کابل ښار اوسېدونکی نذیر شینواری وایي: «حکومت ناتوانه دی، پر فابریکو او ښارګوټو کنټرول نه لري، هوا ورځ تر بلې خرابېږي».

د هوا ککړتیا په ټولنیزو رسنیو کې هم غبرګونونه پارولي دي. کاروونکو ککړه هوا خاموش قاتل بللې او پر حکومت یې غږ کړی دی، چې د دغه بوږنوونکې پدیدې د کنټرول لپاره اړین اقدامات تر سره کړي. د روغتیا نړیوال سازمان بیا وایي چې هر کال د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ۴،۲ میلیونه وګړي له کوره د بهر ککړې هوا او ۳،۸ میلیونه په کورونو کې د ننه د شته ککړې هوا له امله مړه کېږي.

# راپورونه: په نیویارک کې د یهودي عالم په کور کې پنځه کسان په چړو وهل شوي

راپورونه وایي، د امریکا د نیویارک ایالت په شمال کې یوې عبادت خونې ته څېرمه، په یوه کور کې پنځه تنه په چړې وهل شوي دي. د ارتودوکس یهودانو د عامو چارو شورا په خبره، دا کور د یوه یهودي عالم و.

دا شورا وایي چې لږ تر لږه پنځه تنه ټپیان چې ټول یهودان وو، روغتون ته لېږدول شوي دي.

د دغه ایالت پولیس وایي، مشکوک کس چې له سیمې تښتېدلی و، اوس له پولیسو سره دی، خو تر اوسه د پېښې انګېزه نه ده مالومه شوې.

د یهودانو دې شورا په خپل ټویټ کې ویلي چې یو ټېپي شپږ ځلې په چړې وهل شوی دی. دا برید داسې مهال شوی، چې د حانوکا په نامه د یهودیانو د یو لرغوني اختر یا د اخلاص اختر مراسم لمانځل کېدل.

د یهودانو د دې شورا یوه غړي نیویارک ټایمز ته ویلي: «د برید پر مهال په یاد کور کې لسګونه کسان راغونډ شوي وو».

راپورونه وایي چې دا پېښه په یوه کور کې د هانوکا د مراسمو پر مهال شوې ده. ٦٥ کلن ارون کوهن چې د برید پر مهال د یهودي عالم په کور کې و، ویلي: «د ژوندي پاتې کېدو دعا مې کوله، بریدګر چې کله کور ته راننوت، برید یې پیل کړ او موږ د غبرګون ښودلو لپاره هېڅ فرصت ونه موند».

ښاغلی کوهن زیاتوي، بریدګر وروسته هڅه وکړه چې د کور په ګاونډ کې کلیسا ته ننوځي، خو خلکو یې مخه ونیوه، لار یې پرې وتړله او دروازه یې قلف کړه.

د نیویارک ایالت لویې څارنوالې لیټېتیا جېمز ویلي چې دې پېښې غمجنه کړې ده. نوموړې پر خپله ټویټرپاڼه ویلي: «د دې کرغېړنې پېښې په اړه زموږ زغم صفر ته رسېدلی او دا بوږنوونکې پېښه به وڅېړو».




حانوکا یا حَنوکا لرغونی یهودي اختر دی، چې اته ورځې دوام لري او معمولاً د عیسویانو له کرېسمس سره هممهاله نمانځل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱۹ ز کال کې په امریکا کې دېته ورته څو نورې پېښې هم پېښې شوې، چې د پېښېدو لاملونه یې بېلابېل ښودل شوي دي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**څلورمه برخه**

**پایله**

### یوولسم څپرکی
### د اجمل خټک شعر




گرد د لارې وگورئ د شپون په مـخ
نورو پسې تگ سـړی خـر مخی کړي
پخپل وطن کې جنگ راپــه سر دی
هلته هـم زه مـرم، دلـتـه هـم زه مـرم
پـــردی غوبل دی پـــردی اشر دی
هلـته هـم زه مـرم، دلـته هـم زه مرم
زما گرېوان یـــې ریـښې ریښـــې کـړو
زمـا وجـود یـــې انـدام انــدام کــړو
پردی ټوپک دی، پـردی سنـگر دی
هلـته هـم زه مـرم، دلـته هـم زه مرم
کوڅـه کـوڅـه مـــې د زړه پـــه وینـو
روزانــــه لامـــې، زه ورتـــه گـــورم
مـا پـه مـــا وژنـــي، کـافـر هنــر دی
هلـتـه هـم زه مـرم، دلـته هـم زه مرم
«رحمت شاه سایل»

د پښتنو په سیمو کې د سولې هیلې بې برخلیکه پاتې دي. په افغانستان او پاکستان کې د ترهگریزو بریدونو او حکومتي عملیاتو تر ټولو لویه قرباني پښتانه ورکوي. ناټو اعلان وکړ چې په ۲۰۱۴ز کال به خپل سرتېرې له افغانستان څخه وباسي، خو لا هم جگړه جریان لري. ډېری افغانان د لویدیځ پر دې پرېکړه خواشیني دي چې د لږ تر لږه سولې او ثبات له تضمین پرته له افغانستان وځي. ټولو اړخونو خپلې اړیکې د ناټو له وتو سره تړلې، ځکه نو سیمه ییزه همکاري لا یو لیرې خوب دی. د افغان حکومت ادارې لا هم کمزورې دي. د دولت اساسي ستنې، قضائیه ځواک، مقننه ځواک، اجراییه ځواک او امنیتي بنسټونه لا هم د هغو ځواکمنو څېرو تر اغېز لاندې دي چې په ځانگړو شبکو پورې تړلي دي. دا کسان د افغانستان د وروستي معاصر تاریخ په ناخوالو کې ښکېل پاتې شوي، که څه هم افغان امنیتي سرتېري په کمي لحاظ ډېر شوي، خو د ظرفیت له مخې د خپلو حقیقي خلکو ساتنه نشي کوی. د دا ډول ادارو جوړول او مخته وړل ستونزې زېږوي. د سولې د مذاکراتو خبرې ناکامې شوې، لا هم پرلپسې تاوتریخوالی روان دی. بې باوریو د هېواد په شمال او ختیځ کې ځینې زورواکي او قومندانان اړ ویستل چې د دویم ځل لپاره خپل ملاتړي وسله وال کړي. په دې ډول نامعلوم حالت کې د شیعه او سني فرقه یي جگړو د لمسولو لپاره ځینې حرکتونه هم ترسره شوي. د ډېریو افغانانو لپاره دا تر ټولو خطرناکه سناریو ده چې یو ځل بیا د قومي کرښو پر محور د ۱۹۹۰ لسیزې نیابتي جگړو ته لاړ شي. ځینې ویښ افغانان باوري دي چې له ۲۰۰۱ز کال را وروسته چې کوم منځلاري پرمختگ شوی، د دریولسیزو جگړو ستړیا به پرې نږدې چې یو ځل بیا په ټولیزه توگه کورنۍ جگړه پیل شي، خو هغوی دا درک هم کوي چې له بهره د نوي نسل تر منځ د ورته وحشت اور ته پکی وهل کېږي.

پاکستان هم په ډېرو ستونزو کې ښکېل دی. د دې هستوي وسلو لرونکي هېواد له چپه کېدو سره به کړکېچ د افغانستان په پرتله څو چنده زیات او خطرناک وي. په خپله خاوره کې افراطیانو ته د پناه ورکولو پر سر د پاکستان اړیکې په ټولیزه توگه له لوېدیځ او په ځانگړې توگه له واشنگټن سره تل خرابې شوې دي. په پاکستان کې د نړیوالو ترهگرو د پټنځایونو خبره هغه مهال لا پسې مشهوره شوه چې د ۲۰۰۱ز کال د مې، پر ۲مه اسامه بن لادن، د پاکستان په شمال لوېدیځ نظامي ښارگوټي ایبټ اباد کې د امریکایي ځانگړو ځواکونو له لوري ووژل شو. له دې پېښې سره، اسلام‌اباد نور هم په نړیواله کچه څنگ ته کړل شو، ان د پاکستان ستراتیژیکو ملگرو چین او سعودي عربستان هم دا کار وغانده. د هند او پاکستان دښمني نږدې دریېم نسل ته رسېږي، خو هېڅ پایله یې نه ده لرلې.

د پاکستان پوځ په عامه توگه خپل حیثیت ته زیان اړولی، خو بیا هم هڅه کوي چې سیاسي سېستم او د بهرني سیاست پرېکړې تل پر خپل انحصار کې وساتي. د پوځ د قدرت بې ساري ژورتیا په پاکستان کې د ولسواکۍ برخلیک تر پښو لاندې کړی. د هېواد ناامنۍ ته په کتو سره اټومي وسلې د یو پراډوکسي سمبول په توگه پاتې شوې. حال دا چې حکومت خپلو خلکو ته د لومړنیو زېربناوو په چمتو کولو کې هم پاتې راغلی. دا وسلې نړیوال امنیت ته گواښ گڼل کېږي، پاکستانیان یې خپل هېواد تر ډېره ناامن گڼي. له شمال څخه تر سویله، فرقه یي او قومي جگړې ورځ تر بلې ډېرېږي. په بلوچستان کې بېلتون پالنه له ځپلو سره په زور لا پیاړوې شوې. ډېری شمېر هغه جهادي یاغیان چې په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ز لسیزو کې همدا د پاکستان پوځ روزلي او پاللي، پاکستان ته د یوه کفري هېواد په سترگه گوري. جهادي بریدونو پاکستان ناامنه کړی، د وېرې فضاء یې پرې خپره کړې. له ۲۰۰۴ز کال وروسته لس میلیونه پاکستانیان د جگړو او طبعي پېښو له کبله بې ځایه شوي. د پاکستان اقتصاد هم د هغه ناروغ په څېر شوی چې یوازې د خپل ژوند شپې او ورځې شمېري. د امریکایي استخباراتو د اټکل له مخې چې پاکستان او افغانستان دواړه تر ۲۰۳۰ز کال پورې د دولت له ماتې سره مخ کېدونکي دي.

**دوام لري...**

# کویټ

حشمت الله نوري



کویټ د آسیا د جنوب- لوېدیځ په منځني ختیځ او عربي منځني ختیځ کې د فارس د خلیج په شمال- لوېدیځه څنډه کې د شمالي عرض البلدونو د ۲۹ او ۳۰ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۴۶ او ۴۸ درجو په منځ کې موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۶۸۵۳ میل مربع ته رسېږي.

د کویټ شمال ته عراق، جنوب ته سعودي عربستان، ختیځ ته د فارس خلیج او لوېدیځ ته یې عراق موقعیت لري.

د کویټ اقلیم د دغه هېواد د ختیځو برخو په استثنا چې هوا یې سمندري- لنده ده، نوره په ټولو سیمو کې توده ده. د کویټ دوبی خورا تود دی او د تودوخې درجه د سانتگراد تر ۵۲ درجو پورې رسیږي.

د دغه هېواد پلازمېنه د کویټ ښار او ټولټال څه کم پنځه میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۶۰ کسان ژوند کوي.

د کویټ ۹۹ سلنه خلک په ښارونو او پاتې یو سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي.

د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

دغه هېواد د اداري وېش له پلوه پر شپږو ایالتونو وېشل شوی دی. هوالي، احمدي، سالمیه، داهمان  او بورگان د دغه هېواد مهم او لوی ښارونه دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول مشروطه شاهي دی، د کویټ اساسي قانون د ۱۹۶۲ ز کال د نومبر په ۱۱مه تصویب او نافذ شوی دی.

د دغه هېواد اوسنی ولسمشر امیر صباح احمد ال صباح او لومړی وزیر یې صباح خالد ال صباح دی.

په کویټ کې لومړی وزیر او د هغه مرستیالان د امیر له خوا ټاکل کیږي. د دغه هېواد د کابینې وزیران د لومړي وزیر په پېشنهاد د امیر په منظورۍ ټاکل کیږي. د دغه هېواد ولسي جرگه ۵۰ غړي لري چې د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي.

د دغه هېواد حقوقي نظام پر مدني او اسلامي او بیا خاص په شخصي مسایلو کې پر همدې قوانینو ولاړ دی. د کویټ د حقوقي نظام په سر کې د استیناف عالي محکمه ځای لري.

دغه هېواد د ۱۹۶۱ ز کال د جون په ۱۹مه له لویې برېټانیې څخه خپلواکي واخیسته او اوس هر کال د فبروي ۱۵مه د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

کویټ یو وړوکی هېواد دی چې نسبتاً د آزاد مارکېټ اقتصادي سیستم لري او د تېلو ۱۰۲ بلیون بېرله تثبیت شوې زېرمه لري، چې د ټولې نړۍ ۹ سلنه زېرمه جوړوي. نفتي تولیدات د کویټ ۵۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات، ۹۵ سلنه صادرات او ۹۵ سلنه دولتي عواید برابروي.

کویټ هلیه من دی چې په ۲۰۲۰ ز کال کې به هر ورځ څلور میلیون بېرله تېل تولید کاندي. په ۲۰۱۰ ز کال کې د تېلو د بیو زیاتېدو د کویټ د اقتصاد له ودې او پرمختگ سره مرسته وکړه او دولتي بودجه ۲۰ سلنه ډېره شوه.

په دغه هېواد کې لږ هڅه شوې چې پر تېلو باندې د هېواد اتکا کمه کړي او اقتصادي بنسټونه څو اړخیز شي. سره له دې هم د کویټ حکومت په ۲۰۱۰ ز کال کې داسې پرېکړه وکړه، چې دولت ته اجازه ورکوي چې ځینې تاسیسات پر خصوصي سکټور خرڅ کاندي. د ۲۰۱۱ ز کال په جنوري کې کویټ د خپل پنځه کلن اقتصادي پلان عملي کېدل پیل کړل، چې ۱۳۰ بلیون ډالره لگښت غواړي. دا پنځه کلن پلان به پر تېلو او گازو باندې د کویټ اتکا کمه کړي. په دغه هېواد کې به نوې تولیدي ځانگې فعالې شي او په اقتصاد کې به د خصوصي سکټور ونډه ډېره شي. په دغه هېواد کې دومره بهرني کارگران کار کوي چې د هېواد له اصلي او سېدونکو څخه ډېر دي. په دې لړ کې ځینې افغان ځوانان هم هلته پر کارونو لگیا دي، چې عواید یې په افغانستان کې د دوی د کورنیو عوایدو او جي ډي پي په جوړښت کې مهمه برخه لري. ډېر هغه افغان کارگران چې په کویټ کې کار کوي، مسلکي تخصص نه لري. له همدې امله دوی په لږ تنخواه درانه کارونه کوي. دغه هېواد د اوبو له سخت کمبود سره مخ دی، له همدې امله کرنیزه ځمکه نه لري او د کبانو تر نیونې پرته د کرنیزې پرمختیا هېڅ تمه نه شي کیدای. کویټ خپل ټول خوراکي توکي له بهر څخه راوړي. دغه هېواد خپلې د څښاک ۷۵ سلنه اوبه یا له بهر څخه راوړي او یایې د سمندر له اوبو څخه چاڼوي.

د تېلو او گاز ایستل او چاڼ، پتروشیمي توکي، د اوبو چاڼ او خوړول، پلاستیک، سیمنټ، بطرۍ، ټوکران، کیمیاوي سره، ساختماني توکي، مالگه، د اوبو د برېښنا او حرارتي برېښنا وسایل، د برېښنا سامان او د بېړیو ترمیم  د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د کویټ خاوره په عمومي توگه د کرنې وړ نه ده، د دغه هېواد ۸ سلنه خاوره څړځایونو نیولې او په ښارونو کې یې د خرما ونې لیدل کیږي. د کویټ ځمکه ډېره کمه کرل کیږي، کرنه د کویټ د ناخالص کورني تولید په جوړښت کې هېڅ ونډه نه لري، خرما د کویټ یوازینی زراعتي محصول گڼل کیږي او د دغه هېواد یو سلنه خلک په دې سکټور کې پر کار بوخت دي.

جاپان، هند، امریکا، جنوبي کوریا، سنگاپور او چین د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي. دغه هېواد اووه هوایي ډگرونه لري چې څلور یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹۶ او د انټرنېټ کود یې KW دی، چې ټولټال یې څه کم یو میلیون خلک ورته لاسرسی لري.

په کویټ کې د خپرونو دولتي سکټور څلور ټلوېزیونونه او یوه راډیو لري، چې په عربي او انگلیسي ژبو خپروني کوي. په دغه هېواد کې خصوصي رسنیو ته په ۲۰۰۳ ز کال کې اجازه ورکړل شوه چې پر کار پیل وکړي. د دغه هېواد لومړنۍ خصوصي راډیو په ۲۰۰۵ ز کال کې جوړه شوې ده.

کویټ د آسیا او نړۍ له شتمنو هېوادونو څخه دی، هر کویټي وگړی په منځني ډول په کال کې شاوخوا ۳۰ زره ډالره عاید لري چې په نړۍ کې له غټو عوایدو څخه شمېرل کیږي.

په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي. په دغه هېواد کې زده کړه د ۶- ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده.

د کویټ د پخواني تاریخ په اړه څه معلومات نشته، د هجرت په ۱۲م کال کې په دغه سیمه کې د ساسانیانو او د اسلامي لښکرو تر منځ جگړه شوې، چې ساسانیانو په کې ماتې خوړلې او کویټ په اسلامي قلمرو کې حساب شوی دی. په ۱۶مه پېړۍ کې پرتگالیانو د کویټ په سواحلو کې لږ تاسیسات جوړ کړي وو، د کویټ ښار د ۱۸مې پېړۍ په لومړیو کلونو کې جوړ شوی او په بېړه یې وده کړې ده.

کویټ چې د عربستان د ټاپووزمې یوه کمکۍ برخه نیولې، د جزیره العرب له نورو سیمو سره ورته برخلیک لري. په دې مانا چې دې هېواد هم د نورو په څېر د عثمانیانو او انگلیسانو واکمنې تېره کړې ده. په ۱۸مه پېړۍ کې کویټ د عثماني سترواکۍ لاس ته ورغی، چې له لږ کورواکۍ سره د شیخ صباح عبدالرحیم له خوا اداره کیده. دا شیخ د کویټ د اوسنیو مشرانو بابا بلل کیږي، په شیخ صباح پورې مربوط دغه کورواکه سیمه د ۱۹مې پېړۍ په لومړیو کې د عثماني امپراطورۍ له گواښ سره مخ شوه. هماغه وو چې شیخ په ۱۸۹۹ ز کال کې د انگلستان له دولت سره یو تړون لاسلیک کړ او انگلستان ته یې په کویټ کې د انحصاري چلند حق ورکړ.

انگلستان د کویټ ځمکنۍ بشپړتیا او کورواکي ومنله. په همدې وخت کې عثماني دولت د المان په مرسته د برلین- بغداد د اورگاډي د پټلۍ جوړولو کارونه پیل کړل او په پام کې وه چې دا کرښه به تر کویټ پورې هم غځېږي.

د لومړۍ نړیوالې جگړې په پای کې فرانسې او انگلستان په منځني ختیځ کې د المان نیول شوې سیمې په خپلو کې ووېشلې. کویټ د انگلستان په برخه ورسېد او د عراق له نوي جوړ شوي پاچایي هېواد څخه جلا شو، چې په کویټ کې یې د خپلې خاورې د یوې برخې په توگه د مالکیت ادعا لرله. په ۱۹۳۸ ز کال کې د کویټ لومړنۍ ځا تېلو ته ورسید او ثابته شوه چې کویټ پرېمانه تېل لري. د کویټ امیر شیخ عبدالله الصباح داسې وېره درلوده چې عراق به یرغل پرې وکړي، له همدې امله یې له انگلستان څخه مرسته وغوښته او انگلیسي پوځونه د عراق او کویټ په گډو پولو کې ځای پر ځای شول.

په دې وخت کې د کویټ د تېلو شرکت جوړ شو، چې د انگلیس د برتش پټرولیم یوه څانگه وه او د امریکا د متحده ایالاتو د گلف شرکت په مرسته یې د کویټ د تېلو ایستل او چاڼ پیل کړ. د کویټ د خپلواکۍ خبرې په ۱۹۶۱ ز کال کې پایلې ته ورسېدې او شیخ صباح ځان د کویټ امیر ونوماوه او د هېواد د چارو واگې یې په لاس کې واخیستې. عراق د کویټ د نوي دولت پر جوړېدو او خپلواکۍ اعتراض کاوه او کویټ له انگلستان څخه وغوښتل چې د عربو اتحادیې د پوځونو تر راتگ پورې خپل پوځونه د عراق- کویټ په پولو کې وساتي. له ۱۸۹۹ ز کال راپدېخوا چې د انگلستان د واکمنۍ ۶۲ کلونه تېر شوي وو، که څه هم چې کویټ په ۱۹۴۵ ز کال کې له انگلستان څخه د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ژمنه تر لاسه کړې وه؛ خو انگلستان د ۱۹۶۱ ز کال په جون کې کویټ ته بشپړه خپلواکي ورکړه.

افغانستان، کویټ د ۱۹۶۱ ز کال د جون په ۲۵مه په رسمیت وپېژانده. کویټ له دې څخه شپږ ورځې مخکې خپله خپلواکي اعلان کړې وه، خو افغانستان د سیاسي اړیکو په جوړولو کې ځکه له احتیاط څخه کار واخیست، چې افغانستان له عراق سره ښې اړیکې درلودې او عراق د کویټ خاوره د خپلې خاورې یوه برخه بلله. کله چې عراق کویټ په رسمیت وپېژانده، افغانستان هم ورته گام پورته کړ او د ۱۹۶۴ ز کال د مارچ په لومړۍ نېټه په کابل او کویټ کې د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي اړیکو اعلامیه خپره شوه. په ۱۹۶۶ ز کال کې په بغداد کې د افغانستان سفیر خلیلي د کویټ لپاره نا استوگن سفیر وټاکل شو.

له افغانستان څخه تر کویټ پورې د هوا له لارې فاصله ۱۹۸۳ کیلومتره او همدا راز د کابل او کویټ ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۱:۳۰ ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸ |
| € | ۸۶,۹۰ |
| Rp. | ۴۹۲ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۱,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

**پولیس**
**119 - 100**
**امبولانس**
**112**
**اتاترک روغتون**
**0202500312**
**ملالی زیږنتون**
**0202201377**
**وزیر محمد اکبر خان روغتون**
**0202301360**
**رابعه بلخي روغتون**
**0202100439**

همیانی

# موخې درلودونکي اوسئ

**ژباړه: حمیدالله حمیدي**

د ژوند موخه مو روښانه کړئ!

موږ ټول باید په ژوند کې د انګېزې او موخې درلودونکي وو. په اصل کې همدا موخه درلودل، ژوند ته مانا ورکوي، بې موخې ژوند هېڅ مانا نه لري. پوهان وايي، هغه کسان چې په ژوند کې موخه نه لري او یا هم تېروتنه نه کوي، هغوی ژوندي نه، بلکې مړه دي. د ژوند موخه مو باید هغه څه وي، چې هر سهار د همدې موخې لپاره له خوبه را پاڅېږی. د دې تر څنګ، تاسو باید د ژوند د هرې ورځې لپاره هم موخه ولری. تر هغه چې خپلې ورځنۍ موخې ته نه یاست رسېدلي، مه ویده کېږئ.

ولې پیدا شوي یاست؟

په ژوند کې کومې موخې لری؟

اوږدمهالې او لنډمهالې موخې مو کومې دي؟

که د پورتنیو پوښتنو لپاره ځوابونه نه لری، نو ډېرې زیاتې ستونزې مو په مخ کې شته چې باید ور سره مخ شی او ویې ګالی. په اصل کې په ژوند کې موخې درلودل زموږ هویت تعریفوي. هغه کسان چې په ژوند کې څرګندې موخې لري، هغوی بریالي هم دي. له موخې پرته هڅه او زړورتیا بې ګټې ده، خو پر موخو باندې تمرکز بیا د بریالي ژوند راز دی.

راتلونکي شل کلونه مو په ذهن کې تصور کړئ، ځان څنګه وینی؟

ایا د کاروبار لپاره کومه نظریه په ذهن کې لری؟ غواړی مخکې له دې چې څلوېښت کلن شی یو میلیونر اوسی؟ غواړی له یوه نړیوال پوهنتون څخه په لوړو نمرو فارغ شی؟ غواړی د جامو یو ښه طراح او یا د ودانیو یو ښه انجنیر اوسی؟ دا باید هغه دلیلونه وي، چې پرې نږدې ټوله ورځ د خوب په بستره کې تېره کړی. موخې مو د کاغذ پر یوه پاڼه ولیکئ او د خوب د تخت تر څنګ یې پر دېوال باندې ځوړندې کړئ. هر سهار کله چې له خوبه را پاڅېږی، په دقت هغه څه تر نظر تېر کړئ چې د کاغذ پر هغه پاڼه مو لیکلي دي او په لوړ غږ یې ولولئ. «زه له څلوېښت کلنۍ د مخه میلیونر کېږم، زه یوه لویه کمپنۍ لرم او زه میلیونونو کسانو ته وینا کوم». دغه څه هر سهار له ځان سره بیا بیا تکرار کړئ، څو د یوه بریالي ژوند پر انګېزه درته بدل شي.

ناپلئون هېل وویل: «یوازې یو شی دی چې د بریالي کېدو لپاره ورته ټول خلک اړتیا لري، هغه په موخه کې قاطع والی او رښتینولي ده. دا چې پوه شو څه غواړو او په پوره مینه یې د لاسته راوړلو هڅه وکړو».

که موخه ولری، نو د رسېدو لپاره ورته هرو مرو هڅه کوئ. یوازې د هیلې درلودل کفایت نه کوي، بلکې د خپلې هیلې پر واقعیت باندې د بدلېدو لپاره باید لاس پکار شئ. دا بیا هغه وخت دی چې تاسو خپلې موخې ته رسېدلي یاست.

دا خو روښانه خبره ده، کله چې هغه څه ته چې ستاسو هیله او ارزو وه او ورته د رسېدو غوښتونکي یې وی، کله یې چې بیا تر لاسه کوی یو ځانګړی خوند او لذت لري. زړه مو یو ځانګړی سکون پیدا کوي او له خوښۍ په ټوپو کېږي. له موخې څخه مو مه لرې کېږی، هغه څه چې غواړی تر لاسه یې کړی، نو تمرکز هم پرې وکړئ. زه ډاډه یم چې که تاسو همداسې وکړی، هرو مرو به ورته رسېږی هم. دا چې انجنیران انجنیران شوي، موسیقي پوهان موسیقي پوهان شوي، دا هرڅه یوه ناڅاپي پېښه نه ده. که د زړه له تله وغواړی چې تل د خپلې موخې پر مسیر ځان ور برابر کړی، کارونه او پروګرامونه مو له خپلې موخې سره اړوند او منظم کړئ، موخې مو داسې روښانه کړئ چې تعقیبول یې درته پر یوه عادت بدل شي، نو بیا کولای شی په ډېرې اسانۍ سره ورته ورسېږی او دغه هدف تر لاسه کړی.

دا هم یوه روښانه خبره ده چې موخې ته د رسېدو په مسیر کې له خنډونو سره هم مخ کېږی، خو تاسو همدا نن دغه څه روښانه کولای شی او پرېکړه کولای شی چې ایا دغو خنډونو ته اجازه ورکوی، چې له موخې مو را وګرځوي او زړه توري مو کړي او که نه له منځه یې وړی او د ستونزو لپاره حللارې پیدا کوئ. هر څه له پروګرام جوړولو پیلېږي. موخې مو د یوه سازمان شوي مهالوېش او پروګرام له لارې مشخصې او درجه بندي کړئ. دغه مشهوره خبره به مو ډېره اورېدلې وي، چې وایي، هغه کسان چې د خپلې بریا لپاره مهالوېش او پروګرام نه جوړوي، هغوی په اصل کې د خپلې ماتې لپاره د پروګرام او مهالوېش جوړولو په حال کې دي.

زما یو ملګری دی، چې هغه په منظم ډول ورزشي کلب ته ځي. له هغه څخه تر اوسه پورې د کلب یوه جلسه هم نه ده پاتې شوې. له هغه څه مې یوه ورځ پوښتنه وکړه، ولې د بدن جوړولو لپاره دومره زحمت باسې او مصارف کوې؟ ویې ویل، غوښتل مې په فیلم کې کار وکړم، خو د فیلم ډایرکټر یوه د قوي بدن لرونکي کس ته اړتیا درلوده. یوازینۍ لار چې په وسیله یې کولای شم په هغه فیلم کې کار وکړم، دا ده چې شپه او ورځ زحمت تېرکړم، څو خپلې موخې ته ورسېږم. د هغه موخه دا وه چې هغه خپلې دې موخې ته د رسېدو لپاره حاضر و هر ډول قرباني ورکړي.

زه یو زده کوونکی پېژنم، چې غوښتل یې په ډېرو لوړو نمرو له پوهنتون څخه فارغ شي. هغه خپل ټول وخت په کتابتون کې مطالعې ته وقف کړی و، مطالعه یې کوله او معلومات او پوهه یې زیاتول. زه ډاډه یم، کله چې هغه له پوهنتون څخه فارغېږي، د نمرو سلنه به یې تر ټولو لوړه وي. دغه کسان د ځان لپاره موخې لري او نه پرېږدي چې هېڅ شی یې هم موخې ته په رسېدو کې خنډ شي او ځنډ پکې راولي. خوښ اوسېدل په ژوند کې ستاسو لویه معنوي موخه ده. هغه څه چې ستاسو اخلاقي اصول ثابتوي، هغه عذاب او افراطي خوشالۍ نه دي، بلکې همدا خوښي ده.

هر هغه څه چې هدفمند نه وي، له یو څه مودې وروسته هېرېږي او پر یوه اضافي بار او ستونزې باندې بدلېږي. مارتین لوترکېنګ ویلي: قانون او مقررات د عدالت لپاره تدوینېږي، خو کله د یوې مشخصې موخې په برخه کې له ماتې سره مخ کېږي، پر یوې خطرناکې ستونزې او سازمان شویو موانعو باندې بدلېږي. دغه څه بیا په ټولنه کې د هر ډول پرمختګ مخه نیسي. که مو فکر کړی وي، همدا چې په ژوند کې مو یو شی لږ هم بې ارزښته شي، بیا نو د موخې په توګه هېڅ وخت هم هغه پخوانی ارزښت نه شي ساتلی او بې ارزښته کېږي.

کله چې ماشوم نړۍ ته سترګې غړوي، شاوخوا خلک یې ټول خاندي خو هغه ژاړي. ولې؟ ځکه د هغه لپاره هر څه نوي وي. هغه نه پوهېږي چې په شاوخوا کې یې څه تېرېږي؛ خو له یوې څه مودې وروسته کله چې مړ شي، شاوخوا خلک یې ټول ژاړي. دا ځکه چې خلک یې تشه نه شي زغملی او دغه خلک د یوه بدلون احساس کوي. خو که چا سم ژوند نه وي کړی، خلک نه ور پسې خپه کېږي، دا ځکه چې تشه یې نه احساسېږي. اوس پوښتنه دا ده چې تاسو کله مړه شی، خلک به څه احساس کوي؟

په دنیا کې هر څه د یوې موخې لپاره پیدا شوي دي. په اصل کې دغه کیهاني روح چې په هر چا کې چلېږي، هغه شی هدفمند کوي او دغه روح په تاسو کې هم جریان لري.

د ژوند موخې مو پیدا او روښانه کړئ، دنیا ته یې وښایاست، احساس یې کړئ او اړیکه ور سره ټینګه کړئ.

## <u>ډیوېډ سډني</u>: د افغانستان امریکایي پوهنتون بندېدو راپورونه حقیقت نه لري

د افغانستان امریکایي پوهنتون مشر ډېوېډ سیډني په خپره شوې اعلامیه کې ویلي، چې د افغانستان امریکایي پوهنتون به خپل فعالیت د راتلونکو کلونو لپاره وغځوي، خو وايي، د مالي خوندیتوب لپاره لاهم مالي سرچینو ته اړتیا لري.

ښاغلي سیډني په خپله اعلامیه کې ویلي، څو چې په افغانستان کې سوله نه وي ټینګه شوې، دا پوهنتون د خپل امنیت د ټینګښت لپاره مالي مرستو ته اړه دی.

دوې ورځې مخکې د سي اېن اېن خبري اژانس خبر ورکړی و چې د افغانستان امریکایي پوهنتون د مالي ستونزو له امله تړل کېږي.

د سي اېن اېن په راپور کې راغلي وو چې د دې پوهنتون کلنۍ بودجه ۲۸ میلیون ډالره ده، چې ٦۰ سلنه یې په USAID پورې تړلې. USAID هم سپارښتنه کړې چې دا پوهنتون دې خپله بودجه پراخه کړي.

ځینو سرچینو هم سي اېن اېن ته ویلي چې د را روان ۲۰۲۰ ز کال له مارچ څخه وروسته، د نړیوالو کارکوونکو بودجه نه ده تصویب شوې او ښایي د افغانستان امریکایي پوهنتون هم ونه توانېږي چې خپل فعالیتونه وغځوي.

د افغانستان امریکایي پوهنتون چارواکو ویلي، د امنیتي اندېښنو له کبله دغه تعلیمي بنسټ هر کال تر ۲۵ سلنې ډېره بودجه (چې ۷ میلیون ډالر کېږي) د خپل امنیت پر ټینګښت لګوي.

په کابل کې د ۲۰۱٦ ز کال د اګسټ په ۲۴مه پر افغان امریکایي پوهنتون طالبانو ډله ییز برید وکړ، ۱۳ کسان په کې ووژل شول او ۴۵ نور یې ټپیان کړل. په وژل شویو کې پروفیسران، زده کوونکي او نور کارکوونکي هم وو. ډېوېډ سیډني د ۲۰۱٦ ز کال له سپټمبر راهیسې د دې پوهنتون رییس دی.

## <u>شکایتونو کمېسیون</u>: د شکایتونو د زیاتوالي له امله نه شو کولای چې په ټاکل شوې موده کې هغه وڅېړو

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وايي چې د شکایتونو د ډېروالي له امله دوی نه شي کولای په ټاکلې موده کې شوي شکایتونه وڅېړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د مرغومي په لومړۍ نېټه د ولسمشرۍ ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړې. خو څلورو ټاکنیزو ډلو د لومړنیو پایلو په اړه ۱٦۵۰۰ شکایتونه د ټاکنیزو شکایتونو په کمېسیون کې ثبت کړل.

د ټاکنو د مهالوېش له مخې، ټاکل شوې ده چې دغه شکایتونه د ۱۵ ورځو لپاره په اړوندو ولایتونو او بیا د ۱۵ ورځو لپاره په مرکزي کمېسیون کې وڅېړل شي.

خو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د مرستیال ویاندې زرمینې کاکړ پژواک ته ویلي، چې د لومړنیو پایلو په اړه ډېر شکایتونه شوي او ولایتي کمېسیونونه نه شي کولای چې په ټاکلې موده کې یې وڅېړي.

هغې ویلي: «د شکایتونو شمېر ډېر دی، دا شکایتونه په سیستم کې ثبتول غواړي، ولایتونو ته لېږل غواړي او بیا ۱۱ ورځې یې څېړلو ته پاتې کېږي چې بیا په ۱۱ ورځو کې ولایتي کمېسیونونه نه شي کولای دغه شکایتونه وڅېړي».

د نوموړې په خبره، د شکایتونو کمېسیون به په پوره توګه هڅه وکړي، څو شوي شکایتونه په ټاکلې موده کې وڅېړي، خو که په ټاکلي وخت کې ونه توانېدل، نو یاده موده به وغځوي.

بل لورته ځینې ټاکنیزې ډلې د شکایتونو د څېړلو مودې د غځېدو ملاتړ کوي، خو ځینې نور یې بیا مخالف دي.

د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې ویاند پاینده حکمت پژواک ته وویل، که د شکایتونو کمېسیون د عدالت د رامنځ ته کولو او د شکایتونو د ښه څېړلو په موخه دغه موده غځوي، نو دوی ورسره ستونزه نه لري.

حکمت وايي: «لومړی خو دې د شکایاتو کمېسیون ټاکل شوې موده په نظر کې ونیسي، خو که بیا هم د شفافیت لپاره ځنډېږي او عدالت تامینېږي، نو موږ ورسره موافق یو».

همدا راز د سولې او اسلامي عدالت ټاکنیزې ډلې ویاند فضل غني حقمل پژواک ته ویلي، چې که د شکایاتو کمېسیون له خوا د روڼتیا په موخه د شکایتونو د څېړلو موده وغځېږي، دوی یې هرکلی کوي.

حقمل ویلي: «هر څومره چې شفافیت رامنځ ته کېږي او څومره چې شکایاتو ته رسېدنه وشي او غور په کې وشي او هر وخت پورې وغځېږي، نو موږ ورسره هېڅ ستونزه نه لرو».

خو د دولت جوړوونکي ټاکنیزې ډلې غړي امیر محمد مظفر پژواک ته ویلي، چې د شکایاتو کمېسیون باید د ټاکنو له مهالوېش سره په خپل وخت د شکایتونو د څېړلو پروسه بشپړه کړي.

مظفر وايي: «شکایتونه باید د قوانینو او طرزالعملونو له مخې وڅېړل شي او د قانون نقض ته هېڅ اړتیا نشته ده».

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غـوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې نهمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۳۰مه | ٤٨٨یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۱ | ۱۸ | ۱٦ |
| -۲ | -۱ | -۱ | ٤ | ٥ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۳۰ | لمر ختل ۰٦:٥۹ | ماسپښین ۱۱:٥٦ | مازیګر ۰۲:۳٤ | ماښام ۰٤:٥۲ | ماخوستن ۰٦:۲۲


## نړۍ



## راپورونه: په نیویارک کې د یهودي عالم په کور کې پنځه کسان په چړو وهل شوي

۳

## ایران، روسیې او چین ګډ پوځي تمرینات پیل کړي



د ایران، روسیې او چین تر منځ ګډ پوځي تمرینات د جمعې په ورځ له چابهار بندر څخه په عُمان او هند سمندر کې پیل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تهران او واشنګټن تر منځ ترینګلتیا دوام لري او اوس تازه له چین او روسیې سره د ایران د سمندري ځواکونو د شریکو پوځي تمریناتو نن څلورمه ورځ ده.


دا ګډ تمرینات د ډسمبر په ۲۷مه د هند په سمندر او د عمان په خلیج کې پیل شوي او تر نن(دوشنبه) ورځې به دوام وکړي.

د همغږۍ په چارو کې د ایران د پوځ مرستیال امیرالبحر حبیب الله سیاري ویلي، له روسیې او چین سره به د دې هیواد ګډ پوځي تمرینات په راتلونکې کې هم دوام وکړي. څکه د ده په خبره، دا ډول پوځي مانورۍ د هند د سمندر په شمال کې د ایران پوځي وړتیاوې زیاتوي.

د ایران د پوځي چارو یو ترکیه مېشتي څېړونکي اقایي جباني حسین د ایران، روسیې او چین تر منځ دې شریکو پوځي عملیاتو ته په اشارې د ازادۍ راډیو فردا څانګې ته ویلي: «د تمریناتو د پوښښ د پراختیا له نظره، دا چې د هند سمندر او عمان سمندرګي تر منځ ۱۷ زره کلیومتره مربع سیمه د دې تمرینونو تر پوښښ لاندې ده او دا چې ایران، روسیه او چین په کې ګډون لري، نو د ایران او امریکا تر منځ روانې ترینګلتیا ته په پام، دا یو کم سابقه حرکت دی».

دا تمرینونه د ایران په جنوب- ختیځ کې پاکستان ته نږدې د عمان سمندرګي له چاه بهار بندره پیل شوي.

## اعتراض کوونکو په عراق کې د تېلو یو چاڼځای تړلی



په عراق کې اعتراض کوونکو د دې هیواد په جنوب کې د تېلو یو چاڼځای تړلی او د دې تاسیساتو بریښنا یې پرچاو کړې ده.

دا په دې هېواد کې له دریو میاشتو راهیسې د حاکم دولت پر وړاندې چې اعتراض کوونکي یې پر اداري فساد او د بېکارۍ کچې پر لوړولو تورنوي، د پیل شویو اعتراضونو دوام دی، چې پلازمېنه بغداد او جنوبي برخې یې سختې ځپلې دي.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، اعتراض کوونکو وړمه ورځ د ناصریه د تېلو د تاسیساتو د تړلو پر مهال، «نه خپله خاوره، نه تېل» شعارونه ورکول.

د تېلو دا چاڼځای په ورځنۍ توګه ۹۰ زره بېرله تېل تولیدوي او تېل د دغه هېواد د اقتصاد مهم فکتور بلل کېږي.

په راپور کې د یو امنیتي چارواکي او د تېلو د چاڼځای د دوو چارواکو له خولې ویل شوي چې دا تاسیسات تړل شوي.

عراق له دریو میاشتو راهیسې د حکومت ضد او ایران ضد بې رهبره اعتراضونو سره مخ دی، چې پر وړاندې یې د حکومت ځپوونکي اقدامات د سلګونو کسانو د وژل کېدو سبب شوي دي.

اعتراض کوونکي پر پراخو اداري درغلیو، بېکارۍ، د عامه خدمتو پر نشتوالي او د عراق په چارو کې د ایران پر لاسوهنه غوسه دي.

دوی له حکومته غواړي چې ژر تر ژره د دوی غوښتنې ومنې.

## نی: خشونت علیه خبرنگاران نسبت به سال ۲۰۱۸ کاهش یافته است



یافته‌های دفتر حمایت از رسانه‌های آزاد (نی) در مورد خشونت در برابر خبرنگاران در سال ۲۰۱۹ میلادی نشان می‌دهد که در جریان این سال ۱۱۵ مورد خشونت در برابر خبرنگاران و کارمندان رسانه‌یی ثبت شده‌اند.

این خشونت‌ها شامل ۱۰ مورد قتل، ۲۱ مورد جراحت، ۱۰ مورد لت‌وکوب، ۵۱ مورد تهدید و توهین، ۱۰ مورد بازداشت‌های موقت، ۸ مورد اختطاف و سه مورد حمله بر رسانه‌ها می‌باشد.

مجیب خلوتگر رئیس اجرایی این نهاد دیروز هنگام نشر گزارش سالانه در مورد خشونت در برابر خبرنگاران و کارمندان رسانه‌یی گفت، در جریان سال ۲۰۱۹ به تعداد ۱۰ خبرنگار و کارمند رسانه‌یی کشته شده‌اند.

او گفت: «باوجود این‌که سال ۲۰۱۹ سال خونین برای رسانه‌ها بود، اما از طرف دیگر ما شاهد کاهش بیشتر از ۴۰ درصد خشونت در برابر خبرنگاران و رسانه‌ها بودیم. ۱۱۵ مورد خشونت در برابر خبرنگاران و کارمندان رسانه‌ها در سال ۲۰۱۹ میلادی به ثبت رسیده است که شامل ۱۰ مورد قتل است که در تناسب با سال گذشته ۵۰ درصد کاهش را نشان می‌دهد».


در این گزارش عوامل کاهش خشونت‌ها در برابر خبرنگاران و کارمندان رسانه‌ها را در این سال کاهش پوشش دادن مستقیم حملات هراس افگنانه، نرفتن خبرنگاران به مناطق جنگی، رعایت مسایل ایمنی و کاهش حمله‌های هراس افگنانه گفته شده است.

وی همچنان گفت که از ۱۰ مورد قتل خبرنگاران و کارمندان رسانه‌یی عاملان ۵ مورد آن بازداشت و مورد پیگرد نهادهای عدلی و قضایی قرارگرفته اند.

گزارش سالانه این نهاد نشان می‌دهد که پس از طالبان، افراد حکومتی به شمول محافظان ریاست جمهوری، محافظان برخی والی‌ها، نمایندگان مجلس، پولیس و در برخی موارد مردم محل به عنوان عاملان تهدید و توهین خبرنگاران به ثبت رسیده‌اند.

## ژونـــد

## سابه مو ونه لوړوي



د دې لپاره چې ونه (قد) مو جګه شي، یوه سالم او ځانګړي غذایي رژیم ته اړتیا ده؛ ځکه دغه سالم او ځانګړی غذایي رژیم د دې لامل کېږي چې په بدن کې مو نوي سلولونه وده وکړي او هډوکي مو کلک شي.

د سبو زیاتره برخه مغذي مواد لري او د بدن د اړتیا وړ غذایي مواد برابروي، چې دغه څه مو د ونې د جګوالي لامل کېږي. کېدای شي ډېرو کسانو ته اوس دا پوښتنه پیدا شي چې ګنې دوی له سبو څخه په خپله غذا کې کار اخلي، خو لا یې پر ګټه نه دي پوه شوي. اصلي خبره دا ده چې سابه باید په څه ډول وکارول شي، څو ستاسو د ونې د لوړوالي لامل شي.

تر ټولو اړینه دا ده چې غوښتنه مو باید پر ځای وي، که مو مور او پلار له ونې ټیټ وي، تاسو به هم له خپلو همزولو په ونه کې ټیټ یاست؛ ځکه تاسو د لوړې ونې لپاره لازم جینیټیکي پټانشیل نه لرئ او یا دا چې له وخته مخکې د لوړې ونې تمه لرئ، کېدای شي تر اوسه بلوغ ته نه یاست رسېدلي، د دې پوښتنو د حل په موخه مو له خپل مور او پلار او یا له کوم ډاکټر سره خبرې وکړئ.

## مهالوېش او مثبت اغېز یې



د موخو ټاکل او شخصي پروګرام جوړول جذاب موضوعات نه، بلکه ډېر اړین کار دی. دا زما د یو عمر د تجربو مرکزي ټکی دی. ما دا موضوع ډېرې وخت د خپلو مراجعینو په منځ کې درک کړې ده.

دوی تل د خپلو هیلو او خوبونو په هکله خبرې کوي، خپلو دې هیلو ته د رسېدو لپاره په لیکلي ډول یو پروګرام او یو واضح لړلیک چمتو کوي. د دې هیلو او موخو نقشه باید په ناممکنه بڼه ونه لیکل شي.

د برنامې جوړولو یوه اغېزه چې ما کشف کړې ده، دا ده چې پر ذهن باندې ډېر مثبت اغېز کوي. دا کړنه ستاسو پوهه لوړوي، څو پوه شی چې اړینې کړنې کومې دي. له غوره پوهې سره تاسو غوره ټاکنه کوی او لکه څنګه چې ستاسو ټاکنه ښه او غوره ده، هرو مرو به غوره پایلې هم لاسته راوړی. نو ځان ته دې ډالۍ ورکړه: یو سپین کاغذ را واخله، پنسل دې وتراشه او خپل هغه کارونه ولیکه، چې تا خپل هغه کسب او ژوند ته رسوي، چې ته یې غوښتونکی یې. دا کار له هغه ډېر اسانه دی چې ته یې په اړه فکر کوې او غوره پایلې به یې تا حیران کړي.